# د شمس بونېري د ادبي اثارو پېژندګلو

# AN INTRODUCTION TO THE LITERARY WORKS OF SHAMS BUNERI

Issn 2304-1463

Raj Bahadar Khan [1]

Rajbahadar54@gmail.com

Dr Bushra Ikram[2]

drbushra@uop.edu.pk

## ABSTRACT

Buner's literary landscape is unique in every aspect. History testifies that its people, flora, mountains, and rivers have their own special identity. The land and people of Buner have left indelible prints on the canvas of history. We're talking about literature here. In Buner's literary horizon, there are many shining stars, among them Shams Buneri is one. His own name is Shamsul Haq, but he's known as Shams Buneri in the literary world. He was born on February 2, 1946, in Ghazi Khani village, in the family of Abdul Razzaq. Eight of his poetry and prose books have been published, insofar.

1. Sur Sahar (Red Morning)

2. Sra Shpelai (Red Flute)

3. Da Jwand Naghmy (Songs of life)

4. Da Zandan Yadoona (Memories from prison)

5. Dagha sajjdy Me Ta Ta We ao Kana (Weren't those prostrations meant to you?

6. Zama dagha shairee da (This is my poetry)

7. Da Zandan Ranrra (The Light of Prison)

8. Fikrona Yadoona ao Khialoona (Meditation, Memories and Thoughts)

[1] PHD Scholar, Pashto Academy University Of Peshawar

[2] Assistant Professor Pashto Academy University Of Peshawar

**Keywords:**

Shams Buneri, Ghazi Khani, Literature, Buner

# د شمس بونېري د ادبي اثارو پېژندګلو

## سور سحر

د شمس بونېري ادبي سفر د والي سوات د مشاعرو نه شروع شوے ؤ او تر دوه زره درېشتم ئې دوام لرلے دے. د هغه د چاپ کتابونو کښې د شاعرۍ اتۀ کتابونه دي چې په کښې سور سحر، د ژوند نغمې، د صبا سندرې، سره شپېلۍ، د زندان يادونه، دغه سجدې مې تا ته وې او که نۀ او زما دغه شاعري ده شامل دي .د شاعرۍ سره سره ئې نثر هم ليکلے دے چې تر دې دمه ئې دوه کتابونه د زندان رڼا او کاني کاني ژوند چاپ دي .د نثر دوه نور کتابونه ئې چې په کښې يو ژوند ليک زۀ څوک يم؟ دے او بل د ټولنې په باب بې ترتيب او ناچاپ پراتۀ دي.چې ډېر زر به د چاپ لمن ته وسپارل شي.

د شمس بونېري د شاعرۍ په تناظر کښې چې د هغه عملي ژوند ته ګورو او که د عملي ژوند په تناظر کښې ئې شاعرۍ ته ګورو نو مجموعي تاثر دا ورکوي چې هغه ته ډېر زر دغه ادراک شوے وۀ چې د هغه لار ، سوچ ،فکر او تګ لاره خطا وه خو سوال د پښتو ؤ پښتو رانيولے ؤ او ځان له ئې پکښې پوښتې ماتولې.بهر حال هغه په شعوري توګه د خپل فن نه د خپلې نظريې د تشهير کار اخستلو او د فن په ځاے ئې همېشه فکر له ترجيح ورکړې وه. فن په فني لوازماتو کښې پائي که څۀ هم د فکر لوړ والے د شاعر اديب د ذهني سطحې ترجماني کوي خو ولې بيا هم د فن چوکاټ د هغه فن امر کوي. د هغه وړومبۍ شعري ټولګه، سور سحر چې کله چاپ شوې ده نو په هغې کښې د هغه د جلال اباد افغانستان د مفرورتيا د وختونو شاعري ده کومه چې د هغه په خيال هغه شاعري ده چې څۀ خو هغه څۀ چې ئې چرته ليکلې وه هلته د هغه ځاے ملګرو محفوظ کړې ده او ډېره د وېرې نه ډېرو ضائع کړې ده.

د سور سحر په خپلو خبرو کښې ليکي:

"افرین زما په ماته ګوډه شاعرۍ که هر چا رانه خنګ وکړو او هر چا پرېښودم خو دې زما سره پښتو وپالله. په اول مئي ۱۹۷۴ء د صوبه سرحد حکومت زما په خلاف د ګرفتارۍ وارنټ جاري کړو و د حکومت دغه ذمه واري وه چې ما ګرفتار کړي ،د اول مئي نه پس چې په ما زمکه اسمان تنور شو غرونو ته لاړم ځنګلونو ته لاړم په تنګو کوټو کښې مې وخت تېر کړو زما سره هېڅ نۀ وو بس زما شعري زما ملګري وه چې زړۀ به مې خوږ شو څو شعرونه به مې ولیکل او خوږ زړۀ ته به مې ټکور ورکړوزۀ مفرور یم او زما شاعري باغي ده.د پولیس نه پټ ووم او زما شاعري د اولس نه پټه وه"[1]

په سور سحر کښې ۳۲ نظمونه، ۴۴ غزلې او ۲۵ قطعات دي د دې نه علاوه پکښې درې شعرونه دوه ځایه او څو شعرونه هم دي.د دې کتاب ۱۲۳ صفحو کښې هم دغه یوه خبره ده هغه هم دغه د خپل وطن د غریب اولس او د محکوم قوم د ازادۍ او د ښۀ ژوند.هغه د سرمایه دارې طبقې خلاف لګیا وۀ خو ناسته ولاړه ئې د ټولو سرمایه دارو سره وه او که ډېر ئې د خپلې وفادارۍ ثبوتونه ورکړي وو خو هغوي هم په چولي دامان پرېښودلے وۀ.بل خوا د هغه افکار ټول د مذهب او د مذهب سره تړلې طبقې خلاف وو او هغه دغه وجه وه چې د هغه مذهبي والد صېب هم هغه په دغه وجه د خپل کور نه شړلے وۀ،

سور سحر د شمس بونېري د شاعرۍ ټولګه ده چې خپل باغیانه احساسات او جذبات ئې د قلم څوکې ته سپارلي دي خو د فن د لمن ټینګولو هڅه ئې کړې ده خو په فني لحاظ ډېرې کمزورۍ لري. خپلې باغیانه جذبې ئې په داسې انداز بیان کړي دي چې د ډېرو خلقو خولې ئې لکه د توپو ځان ته مخامخ کړي دي- هر څو که د شمس په شعرونو د هر اړخ نه د تنقید ګوزارونه کېږي خو بیا ئې هم د خپل فکر نیلے په تېزۍ زغلولے خو کله نا کله دغه تېزوالے د دومره شدت ښکار شوے چې واګې ئې د شاعر د لاسو نه وتلې ښکاري- په سور سحر کښې د ژوند په ډېرو اړخونو شاعر ښۀ په جرات مندانه توګه لیکل کړي دي البته چې کوم اړخونه زیات غالب ښکاري په هغو کښې قام پرستي ،ترقي پسندي،ملا ،غېرت، انتقام، تلمیح،بغاوت،مینه،د باچاخان عقیدت او اختلاف رائې ئې داسې موضوعات دي چې د نن دور په مترقي ادب کښې خپل ځانګړے مقام ټاکلے شي.

زما د لارې سره زر اختلافونه کېدے شي خو کم نه کم زۀ په دې خوشحاله یم چې په

قامي مبارزه کښې مې د پښتنو ګلالو زلمو سره د خپل توفيق هومره برخه واخسته ترې نه جدا پاتې نۀ شم او نن هم د کور و کلي نه لرې د خپلو ملګرو سره د خپلو مشرانو حکم ته په انتظار ناست يم. او بيا وړاندې ليکي چې زما د دې کتاب ټوله شاعري زما د مفرورتيا شاعري ده په دې کښې ما په خپلو ملګرو او خپلو حالاتو نظمونه ليکلي دي.ځکه چې د وخت تقاضې هم دا وې او که ژوند وۀ ډېر زر به که خبر وي د اوربو ترږو اسويلي د مظلومانو دردونه او د خوارانو غمونه راټول کړم او ددې نړۍ د غټانو په مانړو به د غم اورونه بل کړم.[2]

د سور سحر شاعري که د فن په لحاظ ډېره معتبره نۀ ده خو د فکر او حالاتو ترجماني پکښې ښه شوې ده او د شاعر دا خصوصيت وي چې هغه د خپل دور او حالاتو ترجماني کولې شي.

پروفېسر محمد اسلام ارماني د هغه د سور سحر په اړه ليکي:

"هغه چې په کوم ځاے کښې د چا سره ناسته پاسته کړې ده دغه ناسته پاسته يو تاريخي حېثيت لري هغه په يو وخت يو قام پرست شاعر هم دے او د خپل انقلابي فکر او ذهن څښتن هم . هغه تور او سپين ، شپه او ورځ ښۀ پېژني خو دا ښېله خبره ده چې هغه خلقو ته لېونے ښکاري خو صرف هغه خلقو ته د چا چې د ضمير سترګې ړندې دي.او د سرو سپينو سره لوبې کوي . سرمايه داران دي ،جاګيرداران دي او غاصبان دي۔ نو په داسې ړوند ماحول کښې چې پکښې هر وخت تيارۀ تيارۀ وي شمس بونېرے به څۀ خوشحاله شي؟ ځکه خو هغه د يو باغي شاعر په نوم پېژندے شي ، دا بغاوت کول ، دا د انقلاب چغه وهل د هر چا د وس کار نۀ دے،د دې دپاره خداے پاک هغه خلق پېدا کړي دي څوک چې په حقيقي معنو کښې په خپله ژبه او قام مئين دي او کله هم د چا د بدې خبرې ته ښۀ نۀ وائي.د هغه کله هم دا عادت نۀ دے پاتې شوے چې ګنې خان ښۀ ته وائي،هغه هر وخت او په هر قدم د ظلم زور ښۀ غندنه کړې ده.بس دغه يوه خوبي ده چې شمس ئې لکه د نمر ځلولے دے او د هغه فکر ئې نۀ دې بې فکره کړے.ځکه خو ئې په خپله هم په خپلو انقلابي شعرونو کښې دا اواز ، دا غږ،دا چغه داسې وهلې ده ."[3]

## سرۀ شپېلۍ

سرۀ شپېلۍ د شمس بونېري يوه بله شعري مجموعه ده چې ضيا ارټ پرېس پېښور چاپ کړې ده خو په دې هم د چاپ نېټه نشته.البته د مرتضیٰ شاهين د ليک لاندې اګست ۱۹۸۷ء او د شمس بونېري د خپلو خبرو لاندې تاريخ يکم ستمبر ۱۹۸۷ء نه دا ثابتېږي چې دا کتاب به که ډېر لېټ شوے وي خو د ۱۹۸۷ء تر اخري به چاپ شوے وي.په دې کتاب کښې د شمس بونېري او مرتضي شاهين د خبرو نه علاوه ۸۵ غزلونه ،۹ نظمونه او ۳۸ قطعات شامل دي. د دې کتاب شاعرۍ ته چې ګورو نو د سور سحر په نسبت پکښې لږه مېچيرتيې هم ده او د فن خوارۀ هم.انداز ئې هم بيخي بدل او د ياسيت د تيارو نه لږ رڼا پله ګام پورته کړے ښکاري. د دې کتاب د غزل په اړه چې خبره کوو نو دې نتيجې ته رسو چې د هغه په غزل کښې د هغه د سوچ او فکر برعکس د جانان ، د حسن و عشق او محبت سره د قلبي وارداتو ذکر ډېر زيات شوے دے کوم ته چې هغه پخپله هم اشاره کړې ده او روماني رنګ ورته وائي او دغې له ئې هم يو عجيبه جواز کتلے دے . ليکي:

"زما په دې کتاب سرۀ شپېلۍ کښې د فکري شاعرۍ نه علاوه روماني شاعري لږ شان غالب حېثيت.لري د دې په باره کښې زۀ دا وضاحت کول غواړم چې زۀ روماني شاعري د کلاسيکي شاعرۍ خلاف د بغاوت ذريعه ګڼم،کلاسيکيت که يوې غاړې ته د باغيانه شاعرۍ مخالفت کوي نو رومانس خو هډو د سره نۀمني.زۀ روماني شاعري د خپل فکري سکون دپاره نۀ کووم بلکې په خارج کښې چې مينه او محبت د دنګو دېوالونو شاته بنديوان وي او اخلاقيات ئې په څوکۍ ولاړ وي نو زۀ چې د خلقو په زړونو او مخونو کښې د محبت او رومانس جذبې او تاثرات وګورم نو زړونو تړل پرانستل په نغمو او غزلونو کښې وکړم او د ځان دپاره په دغه محفلونو کښې ځاے پېدا کړم.د دې سره سره د روماني شاعرۍ په واسطه د زاهدانو ،شېخانو و ملايانو پيرانو په ناپاک باطن طنز هم کوم"[4]

لنډه دا چې د شمس بونېري په نفسياتو ، سوچ او فکر د جېل د ناوړه اثراتو نخښې نښانې د هغه په سرۀ شپېلۍ کښې ښه په موجونو دي. هغه بېله خبره ده چې هغه او د هغه ملګري ئې نۀ مني.بهر حال د هغه سرۀ شپېلۍ کښې چې کوم رنګ شاعري ده نو د سور سحر د شاعرۍ نه ډېره مختلفه او

متنوع ده د محبت رنګ هم لري او د جذبو د صداقتونو خوارۀ هم. د شمس شان خلق بیا دغې رنګ دپاره خپل بې بنیاده جوازونه پېدا کوي او دې ته نۀ ګوري چې حقیقت هم دغه دے باقي خو پروپېګنډه ده.

سلیم راز د شمس بونېري د ژوند نغمې په سریزه کښې دې خبرې ته په دې انداز اشاره کوي لیکي:

> "د یو رښتني ادب او شاعر په لیک او فن کښې د هغه دور د ټولو سماجي ، عمراني، سیاسي ، تاریخي ، جغرافیائي، سائنسي، او نفسییات عواملو ، فلسفیانه نظریاتو، مذهبي تصوراتو ، او علمي خیالاتو په څه نه څه شکل کښې عکاسي کېږي . ادب او شاعر له حقیقت پسندۍ نه کار اخستل پکار دي او د دیانتدارۍ سره د خپل چاپېرچل د ژوند د مثبتو قدرونو او سپېځلو روایاتو اظهار پکار دے چې د اولس ذهني او فکري رهنمائي وشي، خو باید چې په ادب او پروپېګنډه کښې تمیز وشي.ادیب او شاعر د سماج یو حساسه او باشعوره نمائینده وي هغه د خپل چاپېرچل او ماحول نه اثر قبلوي او دهغې اظهار په خپل فن کښې کوي."[5]

د شمس بونېري د شاعرۍ په اړه د سلیم راز دغه رائې زما په خیال پوره ده چې برملا ئې ورته پروپېګنډه وئیلې ده کومې شاعرۍ ته چې شمس او د هغه ملګري مقصدي یا فکري شاعري وائي.

## د ژوند نغمې

د ژوند نغمې د شمس بونېري بله شعري مجموعه ده کومه چې په شپږ شلې مخونو اډانه ده.په دې مجموعه کښې ۵۰ غزلونه ، ۲۲ نظمونه او ۲۹ قطعات دي.چې په مختلفو موضوعاتو ئې پکښې د خپل فکر نیلې زغلولې دے.

ژوند که په هر حالت کښې وي خو خپل سفر دوام دار ساتي یعنې نۀ خو د چا په زور ظلم ودرېږي او نۀ ورته څوک بندونه تړلے شي- البته ژوند په هر حال کښې تېرېږي خو ښۀ ژوند هغه ژوند بللے کېږي چې سکون او راحت وي پکښې، خوشحالي او سوکالي وي پکښې-

د ژوند نغمې د شمس بونېري د شاعرۍ دویمه مجموعه ده چې د خپل فکر وفن په رڼا کښې

ئې د ژوند تراخهٔ حقیقتونه د شعر په ژبه بیان کړي دي او د خپل باغیانه مزاج مطابق ئې د وخت په واکدارانو ښهٔ په مړانه ګوته پورته کړې او د هغوي ناوړه کارونه ئې غندلي دي او په تېره تېره ئې د هر جابر او ظالم ظلم ئې ټولنې ته لکه د سپین سحر په ګوته کړے د ے. لکه څنګه چې د نوم نه برېښي د ژوند نغمې په خپله لمن کښې د ژوند مختلف رنګونه او اړخونه رانغښتي خو په مجموعي توګه د ژوند نغمې د ترقی پسندۍ په چوکاټ کښې دننه چورلي. داسې لګي چې دلته هم د شاعرۍ نه سېوا پروپېګنډې ته توجه ورکړې شوې وي. چې مونږ د ژوند د نغمې جاج اخلو نو دې نتیجې ته رسو چې که هر څو دا د شمس بونېري دوېمه شعري ټولګه ده خو دې کښې هم د هغه د وړاندېنۍ مجموعې په شان بلها کمزورۍ دي . د املا نه واخله تر فکري مغالطو په هره صفحه څه نه څه داسې ضرور شته چې مونږ ئې د شاعرۍ په ځاے د پروپېګنډې او په تېره تېره د تعصب تلې ته واچوو. دغې ته سلیم راز په داسې لفظونو کښې اشاره کړې ده، هغه د کتاب په سریزه کښې لیکي:

"د ژوند نغمې د شمس بونېري دوېمه شعري مجموعه ده دې نه وړاندې یوه مجموعه ئې د سور سحر په نوم چاپ شوې ده.وئیلے شي چې نقش ثاني د نقش اول نه بهتر وي دا فیصله به لوستونکي پخپله وکړي چې نقش ثاني د نقش اول نه څومره بهتر د ے.زهٔ به صرف دومره اووایم چې په دې مجموعه کښې ټولو کښې ښهٔ نظم سامراج ته د ے چې په سور سحر کښې شامل د ے.

> د ژوند نغمې کښې د کتابت ، املا او ژبې غلطۍ ډېرې زیاتې دي چې نظر انداز کېد ے نهٔ شي.د شعر د نورو فني خامو او کمزورو نه علاوه پکښې د قافیه بندۍ هم څه خاص خیال نهٔ د ے ساتلے شو ے.اکثرې قافیې صوتي دي لکه لاس او اخلاص محاذ او لحاظ یا ښکته ، محبته او ګوته چې په وحدان ښهٔ نهٔ لګي .او د شعري قوانینو او اصولو هم خلاف دي.په اکثرو نظمونو مقصدیت دومره سور شو ے د ے چې نهٔ یواځې فني حسن ئې مجروح کړے د ے.بلکې هغې مقصد ته ئې هم نقصان رسولے د ے.د یو مقصد یا نظریې براه راست پرچار د شعر او ادب منصب نهٔ د ے.په شعر کښې د مقصد اظهار یا د یوې نظریې پرچار دپاره د موزونو لفظونو د انتخاب د حسن بیان سره سره د فني مهارت ضرورت وي.ګنې د ادب او پروپېګنډې په مېنځ کښې به هېڅ فرق پاتې نهٔ شي.د دې دا مطلب هېڅ کله هم نهٔ د ے چې ګنې شاعري

دې دومره مبالغه امېزه او حقيقت نه لرې وي چې د عامو خلقو د پوهې نه بهر وي او په تشريح او توضيح کښې ئې د قسما قسم توجيحاتو ضرورت پېښېږي.د ښې او مقصدي شاعرۍ مواد د ژوند د مسئلو نه اخستلے شي خو د هغې اظهار په فني ډول پکار دے.ځکه چې نعره بازۍ ته شاعري نۀ شي وئيلے .او نۀ د عامو خلقو پشان د زړۀ د وارداتو ،کېفياتو ،يا جذباتو په ساده او بې رنګه ډول اظهار شاعري ده.د داخلي کېفياتو او خارجي اثراتو جمالياتي خوبو سره په زړۀ راښکونکي او فني انداز کښې اظهار شاعري بللې شي.[6]

په مجموعي توګه د ژوند نغمې په ټولو نظمونو کښې د موجوده طبقاتي نظام عکاسي شوې ده د جاګيردارانه او سرمايه دارانه نظام سخا او پمنو څهرو نه ئې پردې پورته کړي دي او دطبقاتي نظام خرابۍ او ګندګۍ ئې په ګوته کړې دي او کړلي دي .خصوصاً په زما ګناه نومې نظم کښې ئې د طبقاتي تفاوت ، لوړو ژورو او د طبقاتي معاشرتي نظام خلاف ئې اواز پورته کړے دے.په يو بل ځاے کښې ئې د تش په نوم مليانو په طبقاتي کردار نکته چيني کړې ده او د جاګيردارانه سماج د پېداوار ملا صېب چې د مذهب د طبقاتي نظام په حق کښې او د هغې ته د دوام ورکولو دپاره استعمالوي،په کردار رسا تنقيد کوي

کښــــېنــي پــه مـمبـر مـلا پـه مـکـر مسـئـلـې کـوي
وائـــي دا دنـــيـــا پـــه تــفــاوت بـــانــدې ودانـــه ده

د ايران د جنګيالو په نوم يو ښۀ نظم دے ، دا نيم شاعر د ايران د انقلاب نه مخکښې د شهنشاه ايران خلاف د خلقو د جدوجهد په دوران کښې وئيلے ؤ . دې نظم کښې د انقلابي اولس د ازادۍ اوخپلواکۍ جذبه ستائيلے شوې ده.د اولس انقلابي او سياسي شعور ته پکښې خراج تحسين،او د هغوي عزم از استقلال ته سلام وړاندې کړے شوے دے.او دا زېرے ورکړے شوے دے چې انقلاب به کاميابېږي او شهنشاهيت او امريت به ړنګېږي . او رښتيا خبره خو داده چې دا کامراني او فتحمندي د دې صدۍ د قومي ازادۍ د تحريکونو او د قومي جمهوري انقلابونو مقدر وګرځېدلې ده.دنيا ولېدل چې د ايران شاه څنګه په تېښته د مايوسۍ او بې سرو سامانۍ په حالت کښې د ايران نه لاړ ، چې په ټوله دنيا کښې ورته چا د پناه ځاے نۀ ورکولو او چې کله د ډېره سوخته مړ شو نو د خپل وطن خاوره ئې هم نصيب نۀ شوه.دا دې د امريت او ظلم انجام، د عوامي

جدوجهد تاریخي فېصله او خواري کښو او مظلومو اولسونو دپاره د حوصلې او ژوند پېغام.

د ایران د جنګیالو په نوم نظم د وحدت فکر او تاثر په لحاظ یو اوچت مقصدي نظم دے چې د شاعر د تخلیقي عمل ، نظریاتي تړون ،جذباتي هم اهنګۍ یوه په زړۀ پورې نمونه ده.سامراج ته نظم هم د دې مجموعې یو ښکلے نظم دے.چې د شاعر د فکري او ذهني او نظریاتي ربط او د اعلي انساني قدرونو سره د مینې یو ښۀ مثال دے۔ په دې مجموعه کښې ګڼ شعرونه شته چې ترې د شاعر د ژوند په حقله نظریې ، مظلوم،او دردېدلي انسانیت سره همدردي او د انسانانو تر مېنځه د مینې ورورولۍ د مضبوطو رشتو د ارزوګانو په اسانه اندازه لګېدلې شي.مونږ چې د ژوند نغمې په شاعرۍ تنقیدي نظر واچوو نو دې نتیجې ته رسو چې د شمس په شاعرۍ کښې د بغاوت بڅرې هره ګړۍ سر راوچتوي او لمبه کېدو ته ځان جوړوي. د بغاوت دا رجحان تخریبي دے۔دا قسمه باغیانه انداز فکر تخریب پله ځي او د تعمیر اړخ پکښې نۀ وي .صرف باغي کېدل خطرناک او نقصانده دي د بغاوت د جذبې سره انقلابي کېدل هم پکار دي چې د زوړ او فرسوده فکر او سماج په ځاے د یو نوي ترقي پسند فکر او سماج تعمیر یقیني شي. باید شمس خپلو باغیانه خیالاتو او رجحاناتو ته انقلابي رخ ورکړي او په خپلې شاعرۍ کښې د ژوند او فن مثبت قدرونه او تعمیري اړخونه څرګند او نمایا کړي.

## د زندان یادونه

د زندان یادونه د شمس بونېري بله شعري مجموعه ده کومه چې په کال **۲۰۱۳**ء کښې د عامر پرنټنګ ایجنسي پېښور له خوا چاپ شوې ده.دا مجموعه په **۱۵۸** مخونو مشتمله ده .په دې مجموعه کښې اویا پورې غزلې دي ،درې ازاد نظمونه او شپاړس پابند نظمونو نه علاوه پکښې دوه قطعې دي.دوست شینواري پرې د شمس بونېرے د انقلاب او سولې شاعر په عنوان سریزه لیکلې ده.او صادق ژړک پرې شمس بونېرے د ژوندي زړۀ او ویښ ذهن لرونکے شاعر په عنوان خپل فکر شریک کړے دے.

زندان د ژوند یو داسې تراخه برخه ده چرته د ژوند ټولې خوشحالۍ په محرومیو کښې بدلېږي او د ازادۍ مرغان د بندېزونو په ګرداب کښې راګېرېږي- البته ځینې باشعوره خلق د زندانو په دغه تورو کوټو کښې هم د خپل فکر نیلے دومره په تېزۍ وزغلوي چې د دنیا سبلګر ئې په شنو دشتو

او د غرونو د څوکو نه نشي زغلولے -

د زندان يادونه د شمس بونېري د شاعرۍ دريمه ټولګه ده چې د زندان په وخت کښې ئې خپل احساسات او جذبات د قلم په ژبه د شعر په جامه کښې رانغښتي دي او خپل قام ته ئې وړاندې کړي دي-

د زندان يادونه هغه شاعري ده چې کومه هغه د زندان په تورو تمبو کښې ليکلې ده او بيا ئې په ډېر زړۀ چاودون چاپ کړې وه ،صادق ژړک د هغه د شاعرۍ د رنګ په اړه ليکي:

"شمس بونېرے د اجمل خټک د مکتب پلوي دے.د هغه سبک هم هغه سبک دے په کوم چې مونږ اجمل خټک پېژنو ځکه چې اجمل خټک زمونږ د انقلابي لارې شاعرانو سر خېل دے.

په دې دور کښې چې قامپالو شاعرانو کومه شاعري کړې ده او يا ئې کوي د اجمل خټک رنګ به ورباندې پروت وي.شمس بونېرے که يوې خوا ته د نظم ښۀ شاعر دے خو د دۀ ځانګړنه دا ده چې د نظم تر څنګ ئې ښۀ غزل هم تخليق کړے دے.چې دا ځانګړنه دې د اجمل خټک څخه بېل ساتي.ځکه چې اجمل خټک يوا ځې د نظم پلار ګڼلے کېږي.هغه پخپله هم غزل ته دومره ارزښت نۀ دے ورکړے .ځکه چې اجمل خټک په زړۀ او ذهن دواړو انقلابي مبلغ وۀ. ولې د هغه په نسبت د شمس زړۀ د شاعر او ذهن ئې د انقلابي دے.ځکه هغه نظم او غزل دواړه په ليکلو د ذهن او د زړۀ تر مېنځه توازن ساتل غواړي او هم دغه ئې د تخليق جبلت لومړۍ نخښه ده.د نظم په ډګر چې هغه څومره سرکش ،باغي، سر تېر او بې باک ليدل کېږي نو د غزل په ډګر کښې ئې رومانيت ليدل کېږي.... د دۀ په شاعرۍ د غني خان اثرات هم څۀ نه څۀ لېدل کېږي.او هغه سر مستي او رندي کومه چې د غني خان د شاعرۍ خاصه ده د دۀ په شاعرۍ کښې محسوسېږي چې شاعر د ژوندي زړۀ او ويښ ذهن ثبوت ورکوي

د شمس بونېري د زندان يادونه که هر څو په زندان کښې تخليق شوې شاعري ده خو ولې بيا هم نۀ پکښې د زنداني جذبو رنګ شته او نۀ خوند. بس غزل ئې د روايت په جولۍ کښې خړپوسې وهي او نظم ئې د پروپېګنډې ژوندي مثالونه دي. بله د کمال خبره دا ده هم ده چې شمس بونېري پخپل

کتاب کښې په خپلو خبرو کښې کوي هغه هم دغه ده چې تنقید به نۀ منم ځکه چې دا زما شاعري ده او ما د تنقید نه پټه ساتلې ده.

دغه سجدې مې تا ته وې او که نا؟

د شمس بونېري دغه سجدې مې تاته وې او که نا؟ د شاعرۍ د تسلسل يو ه بله کړۍ ده. يونېورسټي بک ایجنسي پېښور نه په کال ۲۰۱۴ء کښې چاپ شوے دغه کتاب په ۲۰۲ صفحو مشتمل دے.په دې کتاب نورالبشر نوید سریزه لیکلې ده چې د ادبي ذمه وارۍ حق ئې نۀ دے ادا کړے .بس د روایت تر مخه ئې د خپل ملګري شمس بونېري سره د ګوړې د غونډورو قیصه کړې ده.نۀ ئې د شاعرۍ په فن خبره کړې۔ نۀ ئې د فکر په اړه بس څو روایتي جملو کښې ئې د شمس مدحه خواني کړې ده او پښې ئې ویستلې دي بس دغه یو رښتیا خبره ئې کړې ده چې لیکوال د ځان دپاره د همخیال کس په لټون وي چې وچ په وچه ئې تعریفونه وکړي او د پش نه پشم خان جوړ کړي لکه څنګه چې ئې پخپله کړې دي.

په دې کتاب کښې **۹۳** غزلې او **۲۲** نظمونه دي چې پکښې د لنډ بحر د غزل سره د ترجمه شوي نظمونو دوه بېلګې هم لري. بس لنډه دا چې په غزل کښې ئې څۀ نه څۀ فطري خواږۀ په غېر محسوس انداز کښې خپلې نخښې ښائي باقي د ترقي پسندۍ یا بشر دوستۍ سره سم د روایتي خیالونو او فکرونو د اظهار مجموعه ده.

زندان د ژوند یو داسې تراخه برخه ده چرته د ژوند ټولې خوشحالۍ په محرومیو کښې بدلېږي او د ازادۍ مرغان د بندېزونو په ګرداب کښې راګېرېږي- البته ځېنې باشعوره خلق د زندانو په دغه تورو کوټو کښې هم د خپل فکر نیلے دومره په تېزۍ وزغلوي چې د دنیا سپلګر ئې په شنو دشتو او د غرونو د څوکو نه نشي زغلولے -

د زندان یادونه د شمس بونېري د شاعرۍ دریمه ټولګه ده چې د زندان په وخت کښې ئې خپل احساسات او جذبات د قلم په ژبه د شعر په جامه کښې رانغښتي دي او خپل قام ته ئې وړاندې کړي دي.لکه د خپلو نورو ټولګو شمس بونېري د زندان په یادونو کښې هم د ژوند ډېر اړخونه رانغښتي البته زیاتره ئې د زندان ساندې وئیلي خو بیا ئې هم خپله پښتونولي، غېرت، ترقي پسندي او خپل مرام نۀ دے هېر کړے .شمس بونېرے چې په فکري توګه د ترقي پسند ډلې

ملګرے دے او په شعوري توګه ئې دغه هڅه کړې چې په خپل کلام کښې د خوار او زپلي اولس احساسات راونغاړي او د غټانو لوړو ماڼو ته ئې ورسوي.

په دغه شعري مجموعه کښې که یو خوا د غټانو نه په ښکاره ډول بغاوت شوے نو بل خوا د ملا د فتوو په رویو هم کلکه غندنه شوې او په ډاګه کړې ئې ده که هرڅومره هم په ما د کفر فتوې ولګي خو زهٔ هیڅ کله هم خان نهٔ منم. د خپل عادت نه مجبور شمس په طبقاتي نظام ګوته پورته کړې او وائي چې د خدا ے په نعمتونو د قارون د بچو یعنې د غټانو د بچو راج دے هغوي پرې مزې کوي خو زمونږ بچي په توک نمړي، پسې ړاندهٔ شو او د خوږ ژوند هم داسې دے لکه زمونږ په اوږو چې بار وي-

څنګه چې د کتاب د نوم نه بریښي یعنې د زندان یادونه چې د شاعر هغه د سختو او کړکیچن ژوند هم د خپل عمر یوه سرمایه ګڼي او دغه لمحې ئې هم د قلم څوکې ته په بیباکۍ سپارلې دي.

شاعر وائي چې زما په نغمو کښې د مینې او سرود نغمې څکه نشته چې ما خپل ژوند په زندان کښې تېر کړو او که بیا هم ستاسو خوښه وي چې زهٔ هم د مینې او رومان سندرې ووایم نو ما چرته د زندان نه بهر کړئ بیا به زما نغمې وګورئ چې څومره زړهٔ راښکونکې به وي.

دلته خپله ګناه هم څرګندوي او وائي چې زهٔ څکه په زندان کښې پروت یم چې ما نغمې لیکلې او هغه داسې نغمې دي چې د غټانو په زړونو لکه د چړو ګوزارونه کوي څکه زهٔ نن په زندان کښې پروت یم ګنې زما بل څهٔ ګناه نشته .انتقام او بدل اخستل په پښتون قام کښې یو ستر او منلے شوے حقیقت دے یعنې په هر حال کښې پښتون خپل انتقام چاته نهٔ پرېږدي- هم په دغه تناظر کښې په شمس که په زندان کښې هر څومره هم سخته تېرېږي خو د غېرت او انتقام وینه ئې په رګونو کښې زغلي.

یعنې که د وخت واکدار په مونږ هر څومره هم ظلم کوي او زمونږ مشران او سپین روبي په لارو کوڅو کښې راکاږي خو مونږ ته به هم د دغه ټولو ظلمونو حساب راکوي او دا چې زمونږ مشران سپکوي نو که زمونږ وار پرې راغے نو مونږ به ورله هم بیا بابا او کاکا دغه شان قېد خانې ته راولو.

شاعر یو اړخ ته په قام د بېدارۍ غږ کوي نو بل اړخ ورته د انتقام لاره هم په ګوته کوي یعنې د

ملک او د خاورې د سوکالۍ د پاره پرې غږ کوي خو بل خوا ورته وائي چې تاسو د چا د خوشحالۍ د پاره خپل ځانونه وژنئ راپورته شئ او د ظالمانو په کورونو سمه کربلا جوړه کړئ-

په ژوند کښې ځینې څیزونه داسې وي چې هغه د بنده صبر تماموي او په دغه څیزونو کښې یو انتظار هم دے چې د بدن وینه وچوي البته دغه خبرې هغه څوک احساسولے شي چا چې انتظار کړے وي- شمس که هر څو ډېر وخت په زندان کښې تېر کړے خو بیا ترې هم دومره انتظار نۀ کېږي شاعر خپل محبوب ته وائي چې انتظار زۀ کووم تۀ د دغه زور نه څۀ خبر ئې چې زۀ د کوم اذیت سره مخ یم البته چې تۀ نۀ راځې نو بیا هسې د دروغو وعدې مۀ کوه.

رومانیت هم د ادب یوه برخه ده او ډېرو شاعرانو په خپل کلام کښې رومانیت ته څۀ نا څۀ ځاے ورکړے دے-هم په دغه تناظر کښې شمس هم د دغه اثر نه بچ نۀ دے پاتي شوے

په بعضې شعرونو کښې هم په ابهام کښې د خپل محبوب د حسن تذکره کوي یعنې وائي چې ستا په لیدو زما حالت څۀ داسې شو لکه چې څوک غل په موقع ګېر کړي او په وجود کښې ئې دم ورک شي

د هلکانو سره مینه یا امرد پرستي چې د کلاسیک د دور نه یو سبک راروان دے خو په دغه لاره ډېرو کمو شاعرانو قدم ایښے دے، د زندان په یادونو کښې هم فقط یو شعر دے چې هغه د امرد پرستۍ پرچار کوي.

په لنډو ټکو دومره وئیلے شي چې د زندان یادونه په مجموعي توګه د ژوند حقیقتونو د قلم څوکې ته سپارل شوي دي د فن په لحاظ ئې کلام ښۀ پوخ او کوټلے دے البته د فکر په لحاظ ورسره څۀ نا څۀ اختلاف کېدے شي-

زما دغه شاعري ده

زما دغه شاعري ده د شمس بونېري تازه چاپ شاعري ده کومه چې په فروري ۲۰۲۲ء کښې کتاب کور پېښور چاپ کړې ده. دا کتاب ۱۸۴ صفحې لري چې پکښې ۳۸ نظمونه، داسې ۷۸ غزلې او ۱۷ قطعات او متفرقات دي. سریزه پرې صادق ژړک لیکلې ده او خپلې خبرې پرې شمس لیکلي

دي.

سریزه نویس هم هغه خپلې خبرې تاو راتاو هم هغسې لیکلي دي بس صرف تاریخ او د کتاب پاڼې بدلې دي.صادق ژړک لیکي:

" شمس بونېرے یو نظریاتي او ژمن شاعر دے ، دے په سیاست کښې د اجمل خټک او په شاعرۍ کښې له غني خان څخه متاثره ښکاري . خاص کر د ملا په برخه کښې د غني خان په پلۀ روان ښکاري ...په سوونو بېلګې د نوموړي په دې ټولګه کښې شته چې د ملا سره په جنګ ښکاري ځکه چې شمس هم د خپلې ټولنې د پاتې ورځې ذمه وار ملا ګڼي چې زمونږ ټولنه هم دغه طبقې درولې ده روانېدو ته ئې نۀ پرېږدي نو ځکه په خپله شاعرۍ کښې په ملا کاکا ګزارونه کوي او دغه ګزارونه زۀ د دۀ حق ګڼم چې د خپلې ټولنې د خبر او ښېګړې لپاره دي."[7]

د ژړک د غې بیان سره سم هغه بیا د روایتي انداز نه د مخ اړولو په غرض هم هغه مبنلې او متضاد خبره کوي لیکي:

" د شمس شاعري که مونږ وګورو نو د دۀ په شاعرۍ کښې لویه برخه د انسانانو او خاص کر د ښکلو انسانانو سره خبرې دي.شمس خپله مینه له ښکلو سره بیخي په جار کوي.چې څۀ ئې په زړۀ کښې وي هغه په خله وائي.د زړۀ او خلې خبره ئې یوه ده."[8]

زما دغه شاعري ده کښې دغه اعتراف هم په شا تت غوندې لېدلے شي چې دا وئیل غواړي شمس بونېرے چې زما په فطرت کښې د ښکلا رنګ دے او دغه رنګونه د حقیقت رنګ هم دے او د ژوند رنګ هم . او هم دا زما اورېجنل شاعري ده.

## د زندان رڼا

د شمس بونېري د شاعرۍ نه علاوه د نثر هم دوه کتابونه چاپ دي . چې یو پکښې د زندان رڼا هم

دے.دا کتاب یونیورسټي بک ایجنسي پېښور په کال ۲۰۱۲ء کښې چاپ کړے دے. نور البشر نوید پرې سریزه لیکلي ده او بیا د شمس د خپلو خبرو سره سم د دې کتاب پاڼې ۱۲۲ ته رسي. چې په وړو وړو حکایتي شکل کښې پکښې په مختلفو موضوعاتو د خپل سوچ او فکر مطابق خبرې اترې لیکلي دي.د زندان رڼا په اړه سلیم راز د شمس بونېري متعلق رائې لړه بدله کړې ښکاري. هغه لیکي:

" د سور سحر نه پس د شمس بونېري د فکر و نظر د پلوشو ډک ډېر رانۀ رانۀ او رڼا رڼا کتابونه د خپل اولس د ارمانونو په ترجمانۍ د دې پښتنې خاورې د ښائست او غېرت نمائینده وګرځېدل او د زندان رڼا خود دانشمندۍ داسې مؤثر اثر دے چې دټول سیاسي ژوند او جدوجهد نه علاوه د ذاتي مطالعې ، مشاهدې او تجربې نخښې نښانې په کښې جوتې لیدۀ شي.چې د اقوال په حېث به ئې مستقبل کښې حوالې ورکولې شي."[9]

اقبال شاکر د زندان رڼا په اړه لیکي:

"د سائنس او منطق او فلسفې نه اګاه سړے په عام ژوند د اثراتو نه ناخبره او بیخي د عقل نه وزګار د عقیدې نه منکر وي.د زندان رڼا زۀ د پښتو مزاحمتي او سیاسي ادب په پنګه کښې یوه لویه اضافه ګڼم. شمس بونېري پکښې د خپلې مطالعې ،مشاهدې او تجربې تصویرونه فرېم کړې دي.په دې تصویرونو کښې د دۀ شخصیت ، حقیقت ، فطرت او نظر جوت ښکاري.او هر څوک چې دغې فرېمونو ته ګوري نو لکه دغني خان د لاسو جوړونکو تصویرونو پشان ترې خپل فکر په رڼا کښې خوند هم اخلي او پوهېږي هم چې اشنا په څه منظر نامه کښې په پټه خلۀ په چل چل کښې دلیلونه پېش کوي .د دغې تصویرونو نه به هر سړے د خپل فکر ، نظر، د خپلو نفسیاتو ، زده کړو او فکري مېلان په مطابق اثر اخلي . زۀ دا کتاب حواله خپل رهنما ګڼم.چې د ګڼو داسې سوالونو جوابونه په کښې ماته په ګوتو راغلل چې په کومو پسې زۀ د مودو نه ګرځېدم او ځینې داسې خبرې زما په ذهن کښې پخې شوې چې لا تر اوسه ئې زما په فکر کښې کور نۀ وه کړے . په دغه خبرو به زما په شعور او لاشعور کښې دننه جنګ روان وۀ.نو ځکه دا کتاب ما څو څله

په مینه ولوستو .

د اقبال شاکر د دغې خبرو نه دا واضحه شوه چې د زندان ربړا د رېړا په ځای د فکري تیارې د پلویانو ترجماني ده چې د عقیدې او نظریې د باطل کېدلو دپاره یو لیکلی دستاوېز دے.داسې ډېر سوالونه اقبال شاکر راپورته کړي دي د دې کتاب په اړه چې د هغې په تناظر کښې د شمس سره پخپله هم لاجوابه او خاموش دے .ځکه چې د وخت سره د بونېر خلق هم د دې ګواهان دي چې د شمس بونېري د عقیدوي رنګ او عمل څۀ نتیجه راوتلې وه او تر اوسه د هغه په حقله څۀ فکر او نظر لري.

## فکرونه ، یادونه او خیالونه

فکرونه ، یادونه او خیالونه د شمس بونېري د نثر دویمه ټولګه ده چې د هغۀ په ذاتي مشاهده ، تجربه او سوچ اډانه ده. دا کتاب په کال ۲۰۱۲ء کښې یونیورسټي بک ایجنسي پېښور چاپ کړے دے چې په ۱۷۵ صفحو مشتمل دے.په دې کتاب کښې د وړو وړو حکایتونو په شکل کښې د ژوند د مختلفو اړخونو په اړه لیک شوے دے. په ډېر اختصار سره ئې د یوې موضوع په اړه خپل خیال په داسې انداز راوړے دے چې خپل سوچ او فکر حتمي ګڼي.په دې کتاب کښې د دوو سوو نه سېوا داسې واړۀ واړۀ حکایتي لیکونه دي چې بعضې پکښې د ډېر ارزښت وړ دي.

ادب د یو خاص دور او خاص ټولنې ترجمان وي او هم په هغه دائره کښې تخلیق کېږي.د خپل چاپېرچل ترجماني د ادب وظیفه ده خو دلته قیصه بدله ده دلته پردۍ نظریې او فکرونه په یو منظمه معاشره کښې په یو منظم نظام د مسلط کولو هڅه شوې ده . ادب ئې د پروپېګنډې په توګه کارولے دے.بهر کیف د دې کتاب په اړه خادم حسېن لیکي:

> "د نثري لیکونو دا ټولګې د موضوعاتو داسې ترتیب لري چې مصنف وړومبے د علم او تعقل په نوعیت رڼا اچولې ده،.. نومورې لیکوال د اقتصاد او معیشت دوېمه موضوع د بحث عنوان ګرځولے دے.درېمه موضوع ئې سیاست او څلورمه موضوع ئې جنسیات دي.دا ټول موضوعات ئې د خپل وطن او کور کلي ژبه او محاوره کښې په داسې توګه څرګند کړي دي لکه چې د پولې په غاړه یو خوږ ملګري سره خبرې کوي.

دغه اسان او ساده اسلوب د خپلولو يو غټ سوب د شمس بونېري د مشاهداتو او تجربو شته مني ده. د سماجي ژوند هلې ځلې ، ادبي سرگرمیانې او سیاسي کار د هغه د ژوند درې غټې برخې پاتې شوې دي.د ژوند دې درې واړو برخو کښې شمس بونېري پښې ابله مزلونه کړي دي .."[10]

لنډه دا چې په دې نثر ټو ټو کښې د ژوند د هر اړخ د تجزيې هڅه شوې ده او دغه د شمس خپل سوچ او فکر سره خپل خيال دے.اتفاق او اختلاف ورسره کېدے شي. ځکه چې لازمي نهٔ ده چې هر څوک دې د شمس په چشمو کښې دنيا ته وګوري .بهر حال د شمس بونېري د شعر او نثر مرکزي نقطه د خپلې نظريې تشهير او ترويج دے.د ادب نه ئې د پروپېګنډې کار اخستے دے او فن ئې د لاسه ورکړے دے.د حسن او عشق موضوعات ئې په اوربجنل صورت کښې د غزل په لمن کښې راټول کړي دي.

# حوالې

[1] بونېرے ' شمس ،سور سحر ،د چاپ کال او ځاے نۀ لري ،خپلې خبرې،ص الف
[2] هم دغه ص ب
[3] ښاغلے شمس بونېرے د سور سحر په آئینه کښې، مشموله شمس بونېرے وفن او شخصیت،تدوین او ترتیب،طاهر بونېرے ،عامر پرنټ اینډ پبلشرز پېښور،۲۲۰۱۳ء،ص ۴۴
[4] بونېرے ' شمس ،سرۀ شپېلۍ ،ضیا ارټ پرېس پېښور،ص ط
[5] بونېرے ' شمس ،د ژوند نغمې ،اګسټ ۱۹۸۷ء،ص ۲
[6] هم دغه ص ۱۲،۱۳
[7] بونېرے ' شمس ، زما دغه شاعري ده،کتاب کور ، پېښور ،۲۰۲۲ء، ص ۶،۷
[8] هم دغه ، ص ۷
[9] راز' سلیم ،مشکل پسند انقلابي، مشموله شمس بونېرے، فن او شخصیت، تدوین او ترتیب، طاهر بونېرے ،عامر پرنټ اینډ پبلشرز پېښور،۲۰۲۳ء ، ص۳۴
[10] بونېرے ' شمس ، فکرونه ، یادونه او خیالونه،یونیورسټي بک ایجنسي پېښور،۲۰۱۲ء، ص ۱۱، ۱۰